
آوار
فرهاد ویار

# جوین بائز – تیکن جا فاکُلی – باب مارلی

*Seend.manifo.com*

**څو خبرې**

**جوین بائز، د آزادۍ او برابرۍ آواز**

**تکین جا فاګلي، د خپلواکۍ فریاد**

**باب مارلي، د نړۍ معترض فریاد**

**څو خبرې:**

موسيقي د انسانانو په پرمختګ، بدلون، مبارزې او په روحي غنا کې ډېر مهم رول لوبوي، په تيره بيا چې دا هنر د ولسونو او پرګنيزو انقلابونو په چوپړ کې وي. له همدې امله انقلابي او اعتراضي موسيقي، د خلکو د قهر او هيلو هغه لمبه ګڼل کيږي چې د دښمن په نابودولو کې مرسته کوي او خلک مبارزې، پيوستون او يووالي ته رابلي.

انقلابي او اعتراضي موسيقي، هغه موسيقي ده چې د ناورين او ناتار پر مهال، چيرې چې ښکيلاک او زبيښاک وي، د روان سيند په څير له ولسونو سره يوځای حرکت کوي او په توپاني غرځپو کې د يوه وسله وال چريک په توګه جګړې ته چمتو کيږي. موسيقي که چيرې په تعهد سره وکارول شي، د ډيناميتو هغه انفجار دی چې د ولسي پاڅونونو په ترځ کې کولای شي د ښکيلاکګرو، لاسپوڅو او د بيلابيلو دښمنانو واکمني ړنګه کړي.

د نړۍ د بيلابيلو هيوادونو تاريخ جوتوي چې هر کله ناورين، ظلم او ستم سر راپورته کړی، د اعتراض موسيقی هم د يوې انقلابي وسلې په توګه د دې ظلم او جنايت په وړاندې ودريدلی او په ميړانې او زړورتيا يې خپل رسالت او اصالت تر سره کړی دی.

هر کله چې واڼونه په وينو لړلي شوي؛ موسيقی، سکس، مينه، الکول او نڅا نفرين کړی او د انقلابي او معترض آواز په توګه يې د واڼونو، څلورلارو، کوڅو او معترضو غونډو لاره نيولې او د ولسونو په اعتراضونو کې يې فرياد پورته کړی دی. همدا فرياد لامل شوی دی چې د ولس دښمنان معترض ترانه ويونکي يا تبعيد کړي، يا يې هم بندي کړي او يا يې هم ووژني.

کله چې امريکايي امپرياليزم پر ويتنام بريد وکړ، ډيرو معترضو ترانه ويونکو د جګړې پر ضد خپل غږ پورته کړ او اکثرو هنرمندانو د همدې ښکيلاکي جګړې په وړاندې خپل ستونې فرياد کړ. باب ډيلن هغه لومړنی کس و چې د امريکايي امپرياليزم د ښکيلاکي جګړې په وړاندې اعتراض وکړ:

**تاسو بل څه نشی کولای**

**يوازې د دې لپاره يې ودانوئ**

**چې بيرته يې نابود کړی**

**او زما له نړۍ سره**

**د نانځکو په شان لوبې کوئ.**

باب ډيلن چې د امريکا د اعتراضي موسيقی د پلار (وودی ګاتری) له موسيقی سره مينه درلوده، د هغه ترانو ورباندې ډيره اغيزه لرله او د همدې اغيزې تر لاندې يې د جګړې د اربابانو په وړاندې خپل اعتراضي فرياد پورته کړ او په ترانو کې زاړه ښکيلاکګر سياستوال وګواښل:

**د زړو خاينانو په شان**

**تاسو دروغ واياست، دوکه ورکوئ**

**چې کولای شی په جګړې کې بریالي شئ**

**او غواړئ چې موږ هم په دې باور وکړو؟**

**خو زه ستاسو په سترګو کې دروغ وینم**

**ستاسو په ذهن کې دروغ وینم**

په همدې وخت کې د «ډیلن» تر څنګ جان لنون، جیمی هندریکس، جیم موریسون، جوین بائز او نورو هنرمندانو هم د ښکیلاکي جګړې په ضد برخه واخیسته؛ جیمې هندریکس په اوچت غږ وویل:

**نور، ستا له مردکیو نه ډاریږم**

**نور له تا نه ډاریږم**

**نور ستا اتې بتې ما نه دردوي**

**پریږده چې مرمۍ دې لکه باران ووریږي**

**پوهیږم چې تل غلط وی**

**پوهیږم چې تل به غلط ووسئ.**

جیم موریسون هم د ویتنامیانو تر څنګ ودرید او له بریا وغږید:

**هغوې وسلې لري خو ارزښتونو له موږ سره دي**

**بریا زموږ ده**

**واکمنتیا زموږ ده**

**واکمنتیا زموږ ده.**

په همدې وخت کې«پینک فلویډ» په ډېره زیره ژبه ښکیلاکګرو ته د سپو خطاب وکړ. «مردار لاسونه دې زموږ له صحرا لیرې کړه» د هغې ترانې نوم و چې نوموړې په کې د نړۍ درې ځواکمنه سیاسي رهبران تر نیوکې لاندې ونیول او «د جګړې سپو» په ترانه کې یې د جګړې اربابان هغه سپي وګڼل چې د انسانانو له داړلو پرته بل کار نلري:

**د جګړې سپي، د معاملې خبره نه کوي**

**د جګړې سپي د تسلیمیدو هوکړه نکوي**

**هغوې درنه غواړي او ته یې ورکوئ**

**او د هغوې لپاره باید مړ شئ.**

همدا ډول پینک فلویډ په «انیمل» البوم کې د خپل وخت د ټولنې د سمبولیکې انځورونې په ترڅ کې ټول انسانان په درې ډلو وویشل: خنځیران، سپي او وري. خنځیران هغه انسانان دي چې واکمنی ته د رسیدلو لپاره د هیڅ ډول جنایت څخه ډډه نکوي، یعنې د ځواک هغه اربابان چې په بیلابیلو پلمو سره خونړي جګړې په لاره اچوي او په ظاهره شعار ورکوي چې ناپاکې له نړۍ لیرې کوي، حال دا چې په خپله د ځمکې تر ټولو مردار او ناپاکه او داړونکي ځناوران دي:

**آهای، سپینې مانۍ**

**ته څه یوه شوده ماره یې**

**ای ښاري مېرې چې په خپل کور دې نازیږئ**

**ته څه یوه ټوقماره یې**

**کوښښ کوئ چې موږ خپل احساسات په واټونو کې څرګند نکړو**

**ته خو په رښتیا تقریباً یو ګواښ یې.**

او سپي هغه ډله انسانان دي چې د خنځیرانو ملاتړ کوي. یعنې پوځ، پولیس او استخباراتي سازمانونه. د دې سپو دنده، چې د خنځیرانو کورونو او د ځواک مانۍ مخې ته غزیدلي، د ولسونو داړل دي. دا سپي ګمارل شوي چې هر ډول اعتراض وځپي او وري هغه مظلومه او معصومه ولس دی چې هم د خنځیرانو او هم د سپو لخوا په بیرحمی داړل کیږي.

«جان لنون» د ویتنام د جګړې په ضد تر هغې کچې پورې مخې ته لاړ چې بالاخره «نیکسون» هغه له امریکا وشړو. خو دې مبارز ترانه ویونکي، په داسې حال کې چې کولای شول چوپه خوله پاتی شي او په ډسکوتیکونو او مجللو مانیو کې سندرې ووایي، له امریکا بهر هم خپل اعتراض ته دوام ورکړ او پر آرامه ژوند یې وتوکلی:

**ای د جنګونو خدایانو**

**تاسو چې ټوپکې جوړې کړي**

**تاسو چې وژونکي چورلکی جوړې کړي**

**تاسو چې لوی بمونه جوړ کړي**

**تاسو چې د دیوالونو تر شا پټ شوي یې**

**تاسو چې د میزونو تر شا پټ شوي یې**

**یوازې غواړم په دې پوه شئ**

**چې زه ستاسو واقعي څیرې د نقاب تر شا هم لیدلی شم.**

په ولسي پیوستون او مبارزې کې د اعتراضي او انقلابي موسیقی د ونډې او دندې په پام کې نیولو سره، په دې ټولګه کې هڅه کوم د نړۍ درې هغه مشهور ترانه ویونکي(جوین بائز، تیکن جا فاکلی او باب مارلي) معرفي کړم چې نه یوازې د ښکیلاک، ستم او

زبيښناکګرۍ په ضد راپاڅيدلي او  د ظلم او بلوسګرۍ په وړاندې چوپه خوله نه دي پاتې شوي، بلکې د آزادۍ او خلاصون لپاره د خپلو ولسونو تر څنګ ودريدلي او ان د جلاوطنۍ دردونه يې زغملي او د مرګ د ګواښنې په وړاندې په ميړانه ودريدلي او آوازونه او فريادونه يې تر هغه چې ظلم او ستم، استعمار او استثمار وي، زموږ پر شونډو به زمزمه شي.

ف. وياړ

**جوين بائز، د آزادۍ او برابرۍ آواز**



***د نړۍ ستومانه مينديې ـ د ساکو او وانزتي قصيده (۱-۲-۳) ـ د ډيويډ لپاره ترانه ـ زه له تا سره يم ـ زما د منې کيک چيرې دی؟ـ موږ به بريالي شوو ـ جوهيل ـ زما رنځونه ـ ادامه ورکړه ـ د جګړې وزير ـ ښکله ديش ـ نه، ميرمنو، ژړا نه! ـ تلپاتی قوماندانه!***

جوین بائز،  په ۱۹۴۱ کال کې د امریکا د متحدو ایالتونو په نیویارک کې سترګې وغړولې. د منځني دیپلوم له اخیستلو وروسته، د لومړي ځل لپاره یې په ۱۹۸۵ کال کې له موسیقی سره لیوالتیا پیدا کړه او یو آزمایښتي کسټ یې ثبت کړ چې د کمپنیو خوښ نشو.

بائز، له دې وروسته د  زده کړو لپاره په بوستون پوهنتون کې نوم لیکي، خو له هغه ځایه چې په «ولسي موسیقی» باندې مینه شوې وه، ډېر ژر دا پوهنتون خوشې او  یو ځل بیا د موسیقی نړۍ ته وردننه کیږي. په ۱۹۵۹ کال کې په ۴۷ کلب کې ـ چې د ″ولسي موسیقی″کلب دی ـ سندرې وایي. له هغه ځایه چې ترانې او موسیقي یې د ولسونو غوښتنې، هیلې، رنځونه، کړاونه او آرمانونه رانغاړي، ډېر ژر د خلکو په زړونو کې لاره مومي.

د جوین بائز د کنسرتونو لومړنی لړۍ په سویلي پوهنتونونو کې پیل کیږي، چیرې چې ګڼو تورپوستکو او د لاتینې امریکا خلکو ژوند کاوه او توکمیز تبعیض د دې ځای خلک په بیرحمۍ ځپل. دا کنسرتونه د تود هرکلي سره مخامخ شول. له دې وروسته یې په ۱۹۶۳ کال کې د واشنګټن د ۲۵۰ زره لیوالو اوریدونکو په شتون کې ″موږ بریالی کیږو!″ پرتمینه ترانه وویله.

د ویتنام امپریالیستي جګړه رارسیږي. جوین بائز له دې جګړې سره د مخالف له امله د خپلو عوایدو مالیه د اعتراض په توګه د امریکا امپریالیستي دولت ته نه ورکوي. د امریکا د مالیاتو اداره د هغې په وړاندې «قانوني» چلند کوي، خو نوموړې تر لسو راتلونکو کلونو پورې هم د مالیاتو د ورکړې څخه ډډه کوي او په دې توګه نه غواړي چې ان یو سنټ یې هم د ویتنامي وګړو په ضد وکارول شي.

جوین بائز، د تبعیض، اتمی وسلو، استثمار او د استعماري جګړو او د نابرابرۍ په وړاندې په هر اعتراض کې، چې زمینه به ورته برابره وه، ګډون کاوه: د ویتنام د جګړې سره د مخالفت لپاره د سپینې ماڼۍ مخې ته په لاریونونوکې حاضریږي؛ د مارتین لوتر کینګ تر څنګ د تورپوستکو ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په ضد اعتراض کوي او د کلیفرنیا د کروندو د اعتصابي کارګرانو لپاره کنسرت ورکوي.

 په ۱۹۶۷ کال کې د کنسرت لپاره جاپان ته ځي، سیاسي نظریات یې د ژباړونکي لخوا د کنسرت پر مهال تحریف کیږي. وروسته ژباړونکی ادعا کوي چې د امریکا ډارونکي څارګر سازمان (سی آی ای) پر هغه فشار راوړی و چې د بائز اصلي نظریات نه باید خلکو ته ورسیږي. جوین بائز له جاپان څخه د راستیندو سره جوخت، اجازه نه مومي چې د واشنګټن د اساسي قانون په تالار کې کنسرت ورکړي. خو نوموړې د اعتراض په توګه د ۳۰ زرو نندارچیانو لپاره وړیا کنسرت ورکوي او د یو ولسي معترض هنرمند برم او پرتم د امریکا پانګواله او ښکیلاکګر دولت ته ښکاره کوي.

جوین بائز زندان ته ځي، ځکه چې د ۱۱۹ نورو لاریون کوونکو سره په کلیفرنیا کې د امریکا د وسله والو ځواکونو د مرکزي قول اردو دروازه تړي. لس ورځې وروسته د خلکو د اعتراض له امله له زندان څخه راوځي خو ډېر ژر د ورته اقدام لپاره په ۹۰ ورځو بند محکومیږي، مګر بیا هم د امریکا دولت د زندانیانو د بلوا له ویرې، هغه خوشې کوي.

۱۹۷۰ کال دی. د یونان د مقاومت غورځنګ ورځ تر بلې پیاوړی کیږي. جون بائز په دې باور سره چې موسیقي یې باید د انسانانو د خلاصون لپاره د وسلې په توګه کار وکړي، د دې مقاومت سره د مرستې لپاره کنسرت ورکوي.

 د ۱۹۷۰ کال د دسمبر میاشت کې هانوی ته سفر کوي، چیرې چې د امریکایي امپریالیستانو د بمونو له امله د وینو سیند بهیده. په دې سفر کې امریکایي بندیانو ته د هغوې د کورنیو لیکونه او تحفې رسوي او په ترڅ کې د «زویه، اوسه چیری یې؟» البوم پنځوي.

بائز دا جګړه، د دې لپاره چې د امریکایانو اولادونه په کې مري او بندي کیږي او د همدې سرتیرو په لاس ویتنامي وګړې د امپریالیستي موخو لپاره وژل کیږي، په کلکه غندي.

په ۱۹۷۶ کال کې د شمالي ایرلند د ولسونو د سولې په لاریون کې برخه اخلي؛ په ۱۹۷۷ کال کې د اسپانیا څمکه د جوین بائز د ګیتار په سیمونو کې د لالهاندې شیبې تیروي. «موږ ټکان نه خورو» هغه اسپانیایي ترانه ده چې خپرول یې څلویښت کاله وړاندې د جنرال فرانکو په دستور منع شوي و، خو بائز دا ترانه د اسپانیا له ملي تلویزیون څخه په ژوندي بڼه اجرا کوي؛ په ۱۹۷۸ کال کې د اتمي وسلو په وړاندې په څو اعتراضي لاریونونو کې ګډون کوي؛ کامبوجیانو ته د درملو او خوراکي توکو د رسولو په موخه کامبوج ته ځي؛ په نیکاراګوئه کې کنسرت ورکوي؛ په ۱۹۸۷ کال کې فلسطینیان نه هیروي او د غزې تراړې او غربي ساحل ته د کنسرت لپاره ورځي؛ په ۱۹۹۳ کال کې د بوسنیا او هرزګوین جګړه ځپلي سیمې ته ځي، چې د نړیوالو پام د دې خلکو رنځونو او دردونو ته راوړوي او په دې تمه یوو چې یوه ورځ د افغانستان د ستمځپلي ولس فریاد هم د ګیتار له آواز سره یوځای پورته کړي او د خپل هنر او موسیقۍ او غږ سره د امریکایي او ناتویي ښکیلاکګرو او د هغوې د تالي څټو جنایتونه بربنډ کړي.

په دې ډول جوین بائز ښکاره کوي چې د ښکیلاک، نابرابرۍ، بیوزلۍ، لوږمارۍ، او تبعیض ضد هغه پرتمین آواز دی چې ترنم یې د انسانیت، عدالت او هوساینې په فضا کې د ولسونو په مینه بدلیږي او دا تپانده مینه په هغه پاینده ارزښت بدلیږي، څه چې جوین بائز د خلکو په زړونو کې تلپاتې کوي.

## د نړۍ ستومانه میندې

(د انسانانو یووالی)

د نړۍ ستومانه میندې به  بالاخره

آرامه شي

مور یې ماشومان په غیږه کې نیسو

او وروستی هڅه مو کوو.

کله چې لمر پر دښتو راتېتیږي

هغوې مینې او موسیقی ته لاره مومي

او د نړۍ ستومانه میندې

آرامیږي.

کله چې موږ د کروندګرو څمکه

د ټولو هغو سوداګرو د اوښکو سره خړوبو

چې پر یې ناتاری کړي

هغوې د خپلو تراکتورونو او قلبه شویو کروندو تر څنګ

هک پک ودریږي

او

د نړۍ ستومانه بزګران

آرامیږي.

د نړۍ ټول دردمن کارګران

له جوپه جوپه ولسونو سره

فریاد وهي:

«موږ نو نور بيوزله نه يو

ځکه موږ نور غلامان نه يو.»

کله چې په ټوله نړۍ کې

سرتيري خپلو پوځي جامو ته اور واچوي

او د هيوادونو په پولو کې،

مرچلې تشې پرېږدي

او د جنرال په راستيندو سره

نور يې هغه هير کړی وي

د نړۍ ټول انسانان

آرامېږي.

## د ساکو او وانزتي قصيده*

(۱)

«ستومانتيا او بيوزلي دې ما ته راکړه

دا جوپه جوپه ولسونه چې د آزادۍ د استنشاق هيله لري

دا له شتمنو ساحلونو شړل شوي بدمرغي

دا بې کوره، توپان ځپلي ما ته راواستوه»

*

نيکمرغه انسانان، رنځېدلي دي

نيکمرغه انسانان، سپېڅلې زړونه لري

نيکمرغه انسانان، بخښوونکي دي

نيکمرغه انسانان، غمځپلي دي.

*

له خپلو ريښو غوڅېدنه، سخته ده

له خپلو ملګرو او کورنۍ جلا کېدنه، سخته ده

پلرونه او ميندې ژاړي

او ماشومان لا نه پوهيږي چې څه تيريږي.

*

کله چې موعود ټاټوبی راڅرګند شي

زړور به له ټول مخکې ورروان شي

او نور به يې شا ته په کتار شي.

د انسانانو د اروا ښکلا

د روياګانو د تحقق لپاره زموږ هوډ هڅوي

او جوپه جوپه ولسونه

د سمندر له زړه نه، راتيريږي

چې د سولې او هيلې ټاټوبي ته ورسيږي

خو کله چې دوې د ساحل لورې ته ګام پورته کوي

نه يې څوک غږ اوري او نه يې په لاسونو کې رڼاويني

او نه يې څوک د دې جملې انګازې ته هرکلي وايي:

«مونږ خپل لاټين د طلايي دروازې شاته پريښودی دی.»

*

نيکمرغه انسانان، رنځيدلي دي

نيکمرغه انسانان، سپيڅلي زړونه لري

نيکمرغه انسانان، بخښوونکي دي

نيکمرغه انسانان، غمځپلي دي.

* نيکولا ساکو او بارتولومه وانزتي، امريکايي- ايټاليايي انارشيستان ول چې د پانګوالۍ او د کارګرانو د زبېښاک په ضد يې مبارزه کوله. د امريکا پانګوال دولت دا دوه، په همدې ″جرم″، په ۱۹۲۷ کال کې په اعدام محکوم کړل.

## د ساکو او وانزتي قصیده

(۲)

هو، پلاره، زه یو زندانی یم

مه ډاریږه چې زما جنایت اعلان کړئ

زما جنایت له بیوزلو سره مینه ده!

دایوازې چوپتیا ده چې شرمناکه ده.

*

پلاره، راته غوږ شه چې درته ووایم

څه له موږ سره ضدیت لري:

ـ دوکه!

هغه دوکه چې له پیړیو راپدیخوا ادامه لري!

ته په خپله یو څه تیرو کلونو ته ستون شه،

نو پوه به شئ چې زموږ ټول تاریخ په څه شي لړلی شوی دی.

*

ـ قانون!

قانون، زموږ دښمن دی!

هو، قانون له خپلې پراخې واکمنتیا او څواکمنتیا سره

زموږ دښمن دی!

پولیس پوهیږي چې څرنګه

یو انسان مجرم او بل بی ګناه کړي

هو، د پولیس څواکمنتیا زموږ په ضد ده!

*

ـ دروغ!

هو، هغه کسان چې شرمناکه دروغ وایي

هره شیبه ورته سره زر ورکول کیږي،

د سرو زرو واکمنتیا زموږ په ضد ده!

توکمیزه کرکه زموږ په ضد ده!

او دا ساده حقیقت چې موږ بیوزله یو!

هو، بیوزلي زموږ په ضد ده

د سرو زرو واکمنتیا زموږ په ضد ده!

*

ګرانه پلاره، زه یو زنداني یم

مه شرمیږه چې جنایت مې څرګند کړئ،

د مینې او ورورولۍ جنایت.

دا یوازې چوپتیا ده چې شرمناکه ده!

*

زما مینه، زما بې ګناهي ده

اوس زه پیاوړی او غښتلی یم

ځکه چې ټول کارګران او زیارکښان له ما سره دي

هیله مې له ما سره ده.

*

پاڅون او انقلاب ډالرو ته اړتیا نلري

فکر، مینه او رڼا

او له ټولو انسانانو څخه پاملرنه او د رنځونو زغمنه

د انقلاب اړتیا ده.

*

ته هیڅکله غلا نکوئ، ته هیڅکله څوک نه وژنئ

ته مینه یې

ته ژوند یې

او انقلاب له یو انسان څخه بل انسان ته

لاس په لاس، زړه په زړه مخې ته درومي

او هر کله چې زه ستورو ته ګورم،

داسې انګیرم چې ګواکې موږ د ژوندانه بچیان یو

او مړینه په رښتیا هم چې څومره کوچنۍ ده.

## د ساکو او وانزتي قصیده

(۳)

زویه، مه ژاړه، پیاوړی ووسه

زړور ووسه او مور ته دې تسلا ورکړه

مه ژاړه، ځکه چې د اوښکو تویول بې ځایه دي

مه پرېږده چې راتلونکي کلونه دې هم بې ځایه تیر شي.

*

زویه، ما د دې ناعادلانه مرګ لپاره وبخښه،

هغه مرګ چې پلار دې ستا له څنګه لیرې کوي

ملګرو ما وبخښئ،

زه له تاسو سره یم، راپسې مه ژاړئ!

*

زویه، که چیرې مور دې غمجنه وه،

هغه له ښار څخه بهر یوې بانډې ته بوځه

د ونو تر سیورې لاندې دمه وکړئ

ګلونه وشکوئ او غنچه یې کړئ

او د اوبو د موسیقۍ تر څنګ

- چې د طبیعت آرامتیا ده -

تاسو به ډیر خوشاله ووسي.

خو په یاد ولره

چې له دې خوشالیو یوازې برخمن نشئ

یوه پوړۍ شاته راشه

او له هغه بیوزلي سره مرسته وکړه چې ستا تر څنګ ودریږي.

*

زویه، ما د دې ناعادلانه مرګ لپاره وبخښه،

هغه مرګ چې پلار دې ستا له څنګه لیرې کوي

ملګرو ما وبخښئ،

زه له تاسو سره یم، راپسې مه ژاړئ!

*

بیوزله نیستمن،

ستمځپلي، بلهاري شوي،

او د مرچلونو جنګیالي

ستا ملګري دي

کله نا کله هغوې ستا د پلار په شان پر ځمکه ولیږي

هو، ستا د پلار او «بارتلو» په شان پر ځمکه ولیږي

هغوې  د آزادۍ او نیکمرغۍ په هیله

وجنګیدل او ولیدل

او ته به د ژوند په مبارزه کې

مینه،

او  له مینې ډیر څه تر لاسه کړې

هو، ته به په دې مبارزه کې پوه شئ

چې ته مینه کولای شئ

او نور هم له تا سره مینه لرلی شي

*

اې ملګرو ما وبخښئ،

زه له تاسو سره یم،

هیله کوم چې راپسې ونه ژاړئ!

## د ډیویډ لپاره ترانه *

د ډبرینې دروازې تر څنګ

زړه مې له تمې ډک

لورکی مې په څنګل کې خوب زنګوي

د سپوږمۍ هره رڼا

کلونه څه په څنډ تیروي

مینه، هو مینه زموږ په زړونو کې تلپاتې کیږي.

نوي ملګري پیدا کوم

ځینې اړیکې غځوم،

فصلونه یو په بل پسې تیریږي

او زموږ آسمان آبادیږي

د ډبرینې دروازې تر څنګ

زړه مې له تمې ډک

او لورکی مې په څنګل کې خوب زنګوي.

*

ستا د آسمان ستوري

زما د آسمان ستوري

او موږ دواړه، د دې ژوندانه بندیان.

*

ښه دې چې ته په دې پوه شې

چې څه په زندان کې او څه هم بهر

ته، زه او ټول مجرمان

یو شان په څپانده اوبو کې

خپل وخت پای ته رسوو.

*

هغه غونډۍ به ستا لپاره تل شنه وي

او شین کوچنی چنار

به هسک پاتی شي

او هغه ګلونه چې مو کرلي

د موسمونو په تیریدو سره به

ټول وغوړیږي.

هغه ورځ چې ته بیرته راستنیږئ

یو مور خپلې لوبیدلی لورکۍ ته وایي چې

پلار دې پر بادونو سپور

زموږ زړونو ته بیا راستنیږي

او تر هغې

زه د ډبرینې دروازې تر څنګ په تمه یم

او لورکۍ مې

د ونو لاندې په تال کې نڅیږي.

*دا ترانه جوین بائز خپل خاوند او د ژوند ملګري، ډیویډ هاریس، ته ویلی ده. ډیویډ د ویتنام دجګړې ضد له فعالینو څخه و او د دې جګړې په وړاندې د اعتراض او له عسکري خدمت څخه د سرغړاونې لپاره ونیول شو او په درې کاله بند محکوم شو.

## زه له تا سره یم

نور نو هغه وخت رارسیدلی چې آزاد دې کړم

او ودې ګورم چې له ما لیرې کیږئ

که څه هم په تګ دې خپه کیږم

زه له تا سره یم.

*

مخ دې باد ته وګرځوه

پریږده چې سترې رویاګانې دې پیل شي

غوره لاره انتخاب کړه:

برى یا ماته؟

زه له تا سره یم.

*

زه له هغې مینې سره چې پایداره ده

د سباوون په رڼا کې هلته وم

زه به په توره تیاره شپه کې له تا سره  ووسم

کله چې لمر ډیره موده ده ولیدلی

او  ستا زړه په چټکی سره ډوبیږي

کله چې جیټکه خورئ، کله چې ولیږئ

کله چې دې دیوال ته په شا ودروي

کله چې ټول شیان پای ته رسیږي

زه له تا سره یم.

*

نور نو هغه وخت رارسيدلی چې آزاد دې کړم

پريږده چې له ما ليرې شئ.

څه چې مې کولای شول، ومې کړل

زه له تا سره يم.

غوره لاره انتخاب کړه:

برې يا ماته؟

زه له تا سره يم.

## زما د مېنې کيک چيرې دی؟*

د پارک په زړې څوکۍ ناست؛

ورورە، لکه چې خپه يې؟

آيا ما په مورچلو کې په ياد راولئ؟

زه په لومړی نړيوالې جګړی کې جنګيدلی يم.

هو، له اورګاړي چې پلي کيدو، تا وليدلو

د خدای پامانی زړوره موسکا دې پر شونډو وه

تاسو چيرې وې کله چې موږ کور ته راستانه شولو

څو د مېنې له کيک څخه خپله برخه وغواړو؟

آه، زموږ د مېنې کيک چيری دی، دوستانو؟

زموږ د مېنې کيک چيری دی؟

*

موږ د جګړې له ميدان څخه،

په خپلو پښو يا په ويلچرونو کې راستانه شوي يو،

اوس نو، زموږ د مېنې کيک چيری دی، دوستانو؟

دويمه نړيواله جګړی له ټولو ښه وه

مطمئناً، خدای له زمونږ سره و

تنکي زلميانو د خپلو وياړلي پلرونو

د خير او برکت په دعا سره

په پوځ کې نومونه وليکل

شايد، چې جګړه بدلون وومومي،

خو د یو زلمي د سترګو برېښنا بدلون نه مومي

کله چې له مرګ څخه یوه ګړۍ دمخه

په ژړغوني آواز خپل مور ته غږ کوي.

آه، زموږ د مېنې کیسه څه ده، دوستانو؟

زموږ د مېنې کیسه څه ده؟

موږ د جګړې له میدان څخه،

په خپلو پښو یا په ویلچرونو کې راستانه شوي یو،

اوس نو، زموږ د مېنې کیسه څه ده، دوستانو؟

*

زه، د وروستۍ جګړې لپاره داوطلب شوم

ـ اخلاقي خبرې نکوم ـ

فکر مې کاوه چې موږ د ستاینې وړ یو

ځکه چې له خپل ژوند څخه تیر شوو

ځکه چې په یو څه مو باور درلود

پوهیږم چې باور مو دومره هم څرګنده او روښانه نه و

خو د روغتون د کوټې په موږکانو

او یا هم په ماتو ویلچرونو مو باور نه درلود

آه، زموږ د مېنې کیسه څه ده، دوستانو؟

زموږ د مېنې کیسه څه ده؟

موږ د جګړې له میدان څخه،

په خپلو پښو یا په ویلچرونو کې راستانه شوي یو،

اوس نو، زموږ د مېنې کیسه څه ده، دوستانو؟

*

هو، بالاخره یو تن

مخکې له دې چې د منی له کیک څخه خپله برخه واخلي

ټوپک یې راواخیست او اوس لاسونه نلري

چې د منی له کیک څخه خپله برخه وخوري

خو سره له دې نه غواړي چې مړ شي

ځکه غواړي جګړې ته ادامه ورکړي

د دې لپاره چې  وړوکی ورور یې پوه شي

کله چې نور د جګړې بلنه ورکول کیږي

ځواب ورکړي:«دوزخ ته نه ځم! جګړې ته نه ځم!»

*

دوستانو! په دې ډول به دریمه نړیواله جګړه پیل نشي

دریمه نړیواله جګړه به پیل نشي!

موږ د جګړې له میدان څخه،

په خپلو پښو یا په ویلچرونو کې راستانه شوي یو،

نور به دریمه نړیواله جګړه  پیل نشي!

* په دې ترانه کې «زما د منی کیک» څخه موخه د جګړې څخه ونډه ده.

## **مونږ به بريالي شوو**

موږ به بريالی شوو

موږ به بريالي شوو

موږ به يوه ورځ بريالي شوو

د زړه له کومې په دې باور يم

چې موږ به يوه ورځ بريالي شوو

*

موږ به د يو بل تر څنګ په لاره لاړ شوو

موږ به د يو بل تر څنګ په لاره لاړ شوو

موږ به يوه ورځ د يو بل تر څنګ په لاره لاړ شوو

د زړه له کومې په دې باور يم

چې موږ به يوه ورځ بريالی شوو

*

موږ به په هوساينې کې ژوند وکړو

موږ به په هوساينې کې ژوند وکړو

موږ به يوه ورځ په هوساينې کې ژوند وکړو

د زړه له کومې په دې باور يم

چې موږ به يوه ورځ بريالي شوو

*

موږ نور نه ويريږو

موږ نور نه ويريږو

موږ نور نه ویرېږو

د زړه له کومې په دې باور یم

چې موږ به یوه ورځ بریالي شوو

*

موږ ټول به په آزادۍ کې ژوند وکړو

موږ ټول به په آزادۍ کې ژوند وکړو

موږ ټول به یوه ورځ په آزادۍ کې ژوند وکړو

د زړه له کومې په دې باور یم

چې موږ به یوه ورځ بریالي شوو.

## جوهیل

پرون شپه، جوهیل، مې په خوب ولید

ژوندی، لکه ما او تا

ورته مې وویل: « جو، ته خو څو لسیزې کیږي چې مړ یې»

هغه راته وویل: «نه، زه هیڅکله مړ شوی نه یم»

هغه راته وویل: «نه، زه هیڅکله مړ شوی نه یم»

*

ما ورته وویل: جو، د پولیسو افسرانو ته ووژلې

هغوې ته وویشتلې

او ستا د وژلو لپاره یې بیلابیلې وسلې وکارولې

جو راته وویل:«نه، زه مړ شوی نه یم»

جو راته وویل: «نه، زه مړی شوی نه یم»

*

هغه زما د کټ تر څنګ ودریدلی و

ما ورته وویل:« ته یې د سالټ لیک په ښار کې په قتل تورن کړی»

جو راته وویل:«زه مړ شوی نه یم»

جو راته وویل:«زه مړ شوی نه یم»

*

جو، هلته د ژوند د ستروالي په شان ودریدلی و

او سترګې یې له موسکا ډکې وې

راته یې وویل: «دوې هر څه وژلی نشي

تاسو سازماندهي وکړئ

تاسو سازماندهي وکړئ»

*

له سانتیاګو څخه تر میانی پوری،

په کانونو او کارخانو کې،

چیرې چې کارګران له خپلو حقونو دفاع کوي،

تاسو «جوهیل» پیدا کولای شی،

تاسو «جوهیل» پیدا کولای شی!

*

پرون شپه، جوهیل، مې په خوب ولید

ژوندی، لکه ما او تا

ورته می وویل: « جو، ته خو څو لسیزې کیږي چې مړ یې»

هغه راته وویل: «نه، زه هیڅکله مړ شوی نه یم»

هغه راته وویل: «نه، زه هیڅکله مړ شوی نه یم»

**زما رنځونه**

ته پوهیږئ چې مور دې د مرګ لپاره وزیږیده

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

زما وروره، ډیر ناوخته شوی

ډیر ناوخته

خو اندیښنه مکوه

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

*

د اردن سیند څپې یخې او سړې دي

بدن سړوي خو روح ګرموي

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

*

ما درې پانیزه کتاب تر لاسه کړی

چې په هره پاڼه کې آزادي لیکل شوی

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

زما وروره ډیر ناوخته شوی

ډیر ناوخته

خو اندیښنه مکوه

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

*

که ژوند هغه څه وی چې په پیسو پیریده

نو شتمن به تل ژوندي

او غریبان به مړه وی

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

*

هلته، په باغ کې ونه غټیږي

چې مسیحیان یې د آزادۍ ونه ګڼي

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي

زما وروره ډیر ناوخته شوی

ډیر ناوخته

خو اندیښنه مکوه

خدایه، ډیر ژر به زما ټول رنځونه پای ته ورسیږي.

## ادامه ورکړه

يو څوک زما تر څنګ قدم وهي

يو آواز مې په تن کې دم وهي کيږي

يو آواز مې تن کې دم وهي

ادامه ورکړه، ادامه ورکړه!

*

دوې به تا ته خپلې اتی بتی ووايي

دوی به خپل سپي د داړلو لپاره راوستوي

دوی به موږ په جيلونو کې بندي کړي

ادامه ورکړه، ادامه ورکړه!

*

د دوې ټول دروغ به له منځه لاړ شي

د دوې ټول سپي به ډيرانونو ته غوځار شي

د دوې د زندانونو ديوالونه به ړنګ شي

ادامه ورکړه، ادامه ورکړه!

*

کله چې نور يوازې مخې ته تللی نشئ

د ورور لاسونه دې ونيسه

هره بريا بله بريا راولي

ادامه ورکړه، ادامه ورکړه!

ادامه ورکړه!

ادامه ورکړه!

## د جګړې وزیر

ای د جګړې وزیره

موږ د پاچا منګولې او نیښنونه یو

ته ولې باید موږ له یوې بدمرغۍ نه تر بلې پورې وښرخوئ؟

موږ ته د ودریدلو وخت نه راکوئ

موږ ته د دمې ځای نه راکوئ

*

ای د جګړې وزیره

موږ د پاچا منګولې او  غاښونه یو

ته ولې باید موږ له یوې بدمرغۍ نه تر بلې پورې وښرخوئ؟

موږ ته د میشته کیدو ځای نه راکوئ.

*

ای د جګړې وزیره

ډاډه یم چې ته دومره هوښیار نه یې

خو ته ولې باید موږ له یوې بدمرغۍ نه تر بلې پورې وښرخوئ؟

همدا اوس هم زموږ میندې ډوډۍ نلري

*

ای د جګړې وزیره

ته ولې باید موږ له یوې بدمرغۍ نه تر بلې پورې وښرخوئ؟ ـ ولې؟

اې د جګړې وزیره، ولې؟؟

## بنګله دیش

بنګله دیش، بنګله دیش

بنګله دیش، بنګله دیش

کله چې په لودیځ کې لمر ډوبیږي

په بنګله دیش کې یو میلیون تنه مړه کیږي.

*

د بنګله دیش قصه، هغه لرغونی قصه ده

چې یو ځل بیا د ړندو حکمرانانو لخوا

د هغه قانون پر بنسټ تکراریږي

چې د ځمکې لپاره خلک ورباندې قربانیږي

*

بنګله دیش، بنګله دیش

بنګله دیش، بنګله دیش

کله چې په لودیځ کې لمر ډوبیږي

په بنګله دیش کې یو میلیون تنه مړه کیږي

*

مورډ یوځل بیا څنډې ته ودریدلي یو

هغه مصلوبه کورنی وینو

د هغې لس کلنې مور تشې سترګې وینو

چې خپل نحیفه ماشوم څاري

چې د پشکال د بارانونو او د کلورا له میاشو سره

د جګړې هخه کوي

موږ په پوهنتون کې هغه محصلان وینو

چې د شپې په آرامه خوب بیده

خو سرتیري رارسیږي، په بسترو کې په مردکیو ویشتل کیږي

لیلیه د ویرې ډکیږي، ټول راپاڅیږي، د ډار فریادونه جګیږي

چوپتیا اوبه کیږي، بالښتونه په سرو وینو لمدیږي

*

بنګله دیش، بنګله دیش

بنګله دیش، بنګله دیش

کله چې په لودیځ کې لمر ډوبیږي

په بنګله دیش کې یو میلیون تنه مړه کیږي

*

آیا تا د پوځ هغه غوښتنه لوستې چې د وینې د هدیې لپاره یې کړی؟

دا وینه هغه هلکانو ورکوي چې ستنه په خپل ورید کې وهي

او له بدنونو څخه یې څاڅکی څاڅکی وینه ویستل کیږي

دا وضعه پوهیدل نه غواړي، لږ څه دردمنتیا غواړي

*

د بنګله دیش قصه، هغه لرغونی قصه ده

چې یو ځل بیا د ړندو حکمرانانو لخوا

د هغه قانون پر بنسټ تکراریږي

چې د ځمکې لپاره خلك وربانديې قربانیږي

*

بنګله دیش، بنګله دیش

بنګله دیش، بنګله دیش

کله چې په لودیځ کې لمر ډوبیږي

په بنګله دیش کې یو میلیون تنه مړه کیږي.

## نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

*

په یاد لرم هغه وخت چې موږ ټول

به د بایز ټاون په حکومتی انګړ کې کښېنستو

او د هغو منافقینو ننداره به مو کوله

چې له نومیالیو سره به ودریدل،

له هغو نومیالیو سره چې موږ به یې ملاقات ته ورتللو!

موږ خپل ښه ملګري پیژنو،

او د لارې په اوږدو کې مو ډیر ښه ملګري له لاسه ورکړل

او خپله تیره غواړو په ځلانده راتلونکې کې هیره کړو

اوښکې اوچې کړئ

او چیغې کړی چې موږ زړورې یو!

*

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

په یاد لرم هغه وخت چې مور ټول

به د بایز ټاون په حکومتي انګړ کې کښېنستو

او ورونو به مو اور پوکې کوو چې لمبې وکړی

د هغه لمبو په شان چې په شپه کې رڼا کیږي

او مور به چای، کبان او شوروا پښوله

چې له تاسره یې شریکه کړو

پښې مو د تللو یوازینی وسیله ده

چې باید ورسره مخې ته لاړه شوو

*

نه، میرمنو، ژړا نه

هر څه به سم شي!

نه، میرمنو، ژړا نه

هر څه به سم شي!

*

نه، میرمنو، ژړا نه

نه، میرمنو، ژړا نه

ای ګرانې کوچنی، ژړا نه

اوښکې نه، اوښکې نه، اوښکې نه!

*

نه، میرمنو، ژړا نه!

هر څه به سم شي

نه، میرمنو، ژړا نه!

هر څه به سم شي.

## تلپاتی قوماندانه!

اسپانیایي ترانه

ته د تاریخ په بهیر کې؛

د میړانې لمر سره ،

د مرګ په محاصره کې راغلئ

ستا د ځلانده شتون ژورتیا

دلته څرګنده ده

موږ زده کوو چې ګران دې ولرو

قوماندان چه ګوارا!

*

ته د اور په شان

له پسرلني لمر سره

د سیلۍ مخې ته راغلئ

چې بیرغونه ورپوئ.

*

ستا د ځلاندې موسکا

ستا د ځلانده شتون ژورتیا

دلته څرګنده ده

قوماندان چه ګوارا!

*

ستا انقلابي مینې

درته د ژمنې نوې لارانځور کړه

او چیرې چې ولسونه

ستا د آزادی بخښونکو مټو

د پیاوړتیا او غښتلتیا په تمه دي

هلته ستا د ځلانده شتون ژورتیا

څرګنده ده

قوماندان چه ګوارا!

*

مونږ به د تل په شان

ستا لارې ته ادامه ورکړو

او له فیډل سره به  یوځای فریاد کړو:

ای تلپاتی قوماندانه!

ستا د ځلانده شتون ژورتیا

دلته څرګنده ده

قوماندان چه ګوارا!

## تیکن جا فاکلي، د خپلواکۍ فریاد



---

*په رښتیا، افریقا پورورې ده؟! ـ زما د هیواد وضعه خرابه ده ـ سیاسي جګړه ـ افریقایي انقلاب ـ تبعیض ـ افریقا ـ*

---

د شوروي اتحاد نوميالی موسيقي پوه ديمتري شوستاکوويچ وايي: «داسې موسيقي چې ايدئولوژي په کې نه وي، شتون نلري، آن پخواني آهنگ جوړونکو په پوهې يا نا پوهې، په خپلو آثارو کې سياسي اندونه څرګندول. موسيقي کولای شي او بايد د انسان او د هغه د پرمختګ په چوپړ کې وي. بايد هغه ته ځواک ورکړي څو خپل روحي بډاينه وپالي. ما ته موسيقي، فلسفي اند او منځپانګه لري. زما په فکر هر آهنګ جوړونکو بايد د خپل اثر د تصنيف مخکې د خپلې موسيقی فلسفي او آرماني بنسټونو ته فکر وکړي.»

او تيکن جا فاکُلي، يو له هغو ترانه ويونکو او د رګي موسقي آهنګ پنځونکی دی چې د «شوستاکوويچ» په شان د موسيقي ډکون (محتوا) يې په فکر، اند، باور، هيلې او آرزو ودريدلی او دا هنر د ولسونو او انسانانو لپاره يې کاروي او د همدې لپاره په خپله وايي چې د افريقايي ماشومانو غږ دی:«دا ماشومان ما خپل غږ ګڼي، ځکه چې دوې په خپله کوم غږ نلري.» او «زه د ټولو هغو خطرونو سره چې ورسره مخامخ يم د هغوې غوښتنې نړۍ ته څرګندوم، او د همدې لپاره هم اړ شوم چې خپل هيواد، د عاج ساحل پريږدم او له هغه ځايه وتښتم.»

جا فاکلي وايي چې «موږ د پيړيو مرييتوب او مستعمره توب وروسته ايله پنځوس کاله کيږي چې خپلواکي لرو. خو يوازې مو د خپلواکۍ فوټوکاپي تر لاسه کړې ده. نن موږ د خپلې خپلواکۍ د اصلي سند لپاره دعوا کوو. موږ سياسي او همدا ډول اقتصادي خپلواکي غواړو. خپلواکي نه ورکول کيږي، بلکې اخيستل کيږي.»

او د همدې لپاره هغه د بيوزلو او زيارکښو انسانانو په کوڅو کې ګرځي او د موسيقۍ په مټ هغوې يووالي ته رابلي. فاکلي د بې سوادو وګړو کورونو ته ورځي، ورونه يې ډبوي او ښوونځيو ته د تګ لپاره يې هڅوي او دې کار ته د «افريقايي انقلاب» نوم ورکوي، ځکه چې باور لري چې بې له پوهې بريا نه تر لاسه کيږي.

فاکلي په کوڅو کې له خلکو سره کښيني، د هغوې دردونو ته غوږ ږدي، کورنۍ جګړې وحشت بولي او ديکتاتور لورنت ګباګوی د وحشيانه جګړو لپاره د خلکو جلاد ګڼي او همدا لامل دی چې شعرونه، ترانې، ترجيع بندونه او فريادونه يې د ولس په آواز بدليږي او د وحشيانو کړيکه راوباسي او په اوچت آواز وايي:«که د دې لپاره چې زه رښتيا وايم ما تروروي، څه فرق نکوي، زه چمتو يم. يو څوک بالاخره بايد دا شيان ووايي.»

تيکن جا فاکلي وروسته له هغې چې تلونکي ولسمشر ګباګوی ته يې جلاد وويل او د نوموړي سيال السين کوييتارا غوښتنه، چې ورته ترانه ووايي، په قاطعيت رد کړه، اړ شو چې د جلا وطنۍ لاره ونيسي، خو جلاوطنۍ لامل نشوه چې هغه په يو شنډ او بازاري سندرغاړي تبديل شي، بلکې د آهنګ په ترنم کې يې د خلکو د دردونو د انځورولو هوډ لا ټينګ شو.

فاکلي د ښکيلاکګرو په ضد و او باور يې درلود چې ښکيلاکګر هيځکله له زيارکښو ملتونو سره مرسته نشي کولای او يوازې موخه يې د هيوادونو لوټل دي:«له مرييتوب وروسته د ښکيلاک وار راورسيد. کله چې دا وار هم تير شو، نو ښکيلاکګرو د «مرستې»، د هغوې تر نظر لاندې د مرستې خبره رامخې ته کړه. لوديځ همدا اوس هم د افريقا ځمکنی زيرمې لوټي.» «زموږ لويه وچه، افريقا شتمنه ده، خو افريقايان په بيوزلۍ کې ژوند کوي. دا وضعه عادي نه ښکاري، که ښکاري؟ دا زما د ترانو پيام دی.»

تيکن جا فاکلي باور لري چې هيڅوک، بې له خلکو افريقا بدلولی نشي او د خپل رسالت په اړه داسې وايي:«دا ممکنه نه ده چې هم د ستمځپلو بيانونکی ووسم او هم له هغوې فاصله واخلم، لکه د مايکل جکسن غوندی او د نورو مشهورو سندرغاړو په شان. دا کار عملاً ناشونی دی.» او همدا دی چې د خپلې لويې وچې د سوځيدو، ايره کيدو، لمبه کيدو، لوټيدو او ويجاړيدو له وحشت خبرې کوي او له آزادۍ غږيږي:

دوې پر دیکتاتورۍ باندې سترګې پټوي

یوازې د دې لپاره چې موږ وږي وساتي

دوی زموږ ثروتونه لوټي

څو موږ ژوندي خښ کړي

دوی کانګو وسوځوله

انګولای یې په لمبو کې ایره کړه

ګابون یې په کنډواله بدل کړ

کنشاسا یې وسوځوله.

او په دې ډول فاکلي د یو ژمن، انقلابي او ولسي ترانه ویونکي په توګه د ترانې هغه دنده چې مجاري شاعر شاندور پټوفي ټاکلې په پام کې نیسي. شاندور پټوفي په خپل یو شعر کې وايي چې شاعر باید د لمبو او سیندونو په منځ کې د ولسونو سره مخې ته لاړ شي، او لعنت دې وي پر هغه کس چې د ولسونو بیرغ لویدلو ته پریږدي، لعنت دې وي پر هغه ډارن او لټ انسان چې کله ولسونه خوله تویوي، رنځ ګالي او مبارزه کوي؛ شا ته پاتې کیږي او په سیورو کې ځان ته د هوساینې ځای ځیګې لټوي او په ځانګړي توګه ترانه ویونکو ته پیام ورکوي چې کله رباب په لاس کې اخلي نو ښايي چې ستر کارونه تر سره کړي او که یوازې د خپلو ښادیو او غمونو نغمې غږوي نو خلک ورڅخه کومه تمه نلري او ښايي سپیڅلی رباب یوې غاړې ته کیږدي.

## په رښتيا، افريقا پوروړی ده؟!

برده، مستعمره، رنځيدلی او لوټيدلی افريقا!

په رښتيا، افريقا پوروړی ده؟!

يو غر پيسې

ښکيلاکي فرانس آفريک غلا کړی (۱)

هغه ګناهګارو مستبدينو غلا کړی

چې اوس له هغو بلېو سره چې سيروان ورکړي (۲)

له هغه پورونو سره چې له ډُبی يې اخيستي (۳)

په سويس کې د خپلو بانکونو مخې ته ودريدلي

برده، مستعمره، رنځيدلی او لوټيدلی افريقا!

*

له بدمرغي هيواد څخه

ميلياردونه فرانکه

د پيرل شويو مزدورانو

او د شکنجه ګرو لخوا غلا شوي

هو د هوپوه له شلاقونو سره(۴)

او د ساسو له چټلو پيسو سره (۵)

ميليونونه فرانکه غلا شوي

په رښتيا، افريقا پوروړی ده؟!

آيا په رښتيا، افريقا لا پوروړی ده؟ ـ نه!

۴۰۰ کاله ښکیلاک

په کلونو اجباري کار

زرګونه شرکتونه چې دا وچه يې لوټولې

د پیسو نړیوال صندوق توطئې

د نړیوال بانک ملنډې

او ملیاردونه یورو چې دوکه بازانو

د بیلانسونو په جعلي شمیرو سره

او د ساسو په چټلو پیسو سره غلا کړي

په رښتیا، افریقا پوروړې ده؟!

*

یو غر پیسې

چې ښکیلاکي فرانس آفریک غلا کړې

افریقایي ولسمشران هر یو يې په یوې معاملې کې لاس لري

د هوپوه او د بُنګو ګُنبو له شلاقونو سره (۶)

آیا په رښتیا، افریقا پوروړې ده؟!

------------

(۱) فرانس آفریک د هغه دولتي مافیائي نظام نوم دی چې د دوګل په وخت کې د ژاك فکار لخوا رامنځته شو (د فرانسې له دولت سره د افریقایي مخورو اتحاد)

(۲) سیروان یو فرانسوي فاسد سوداګر و چې په ځانګړي توګه په افریقا کې او په تیره بیا د اِلف (ELF) فرانسوي شرکت په تړاو فعال و.

(۳) ایدریس دبی، د چاد دیکتاتور

(۴) هوپوه بويګني – د عاج ساحل پخوانی ولسمشر

(۵) ساسون ګوسه – له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۹۲ کلونو پورې د زئیر ولسمشر چې د کنګو اوسنی ولسمشر دی.

(۶) عمر بنګو – د ګابن پخوانی ولسمشر

(۷)Ivoirité ایوُیریته: هغه اصطلاح ده چې دګباګبو په وخت کې د دې لپاره چې د عاج ساحل «پخواني اصیل» د «عوضي متجددینو» په وړاندې ولمسوي، په عاج ساحل کې رامنځته شوه؛ د تفرقه واچوه او حکومت وکړه د اصطلاح معادل.

## زما د هیواد وضعه خرابه ده

**(ترجیع بند)**

**ـ ۱ـ**

زما د هیواد وضعه خرابه ده

زما د هیواد وضعه خرابه ده

زما د هیواد وضعه خرابه ده

زما د هیواد وضعه خرابه ده

زما د هیواد وضعه تل خرابه ده

هو، زما د هیواد وضعه خرابه ده!

پخوا د شمال او سویل خبرې نه وې

خو اوس ټول شیان فاسد شوي دي

پوځ ګډوډ شوی

محصلین ګډوډ شوي

ټولنه ګډوډه شوې

او ان مېندې مو په بازارونو کې سره جلا شوي دي.

**ـ ۲ ـ**

پخوا د عیسوي او مسلمان خبرې نه وې

خو اوس یې ټول شیان فاسد کړي

پوځ ګډوډ شوی

محصلین ګډوډ شوي

ټولنه ګډوډه شوې

او ان مېندې مو په بازارونو کې سره جلا شوي دي.

-۳-

د عاج ساحل د فرقه ای لمسونو وروسته (۷)

چې ئو یې اختراع کړ او اِاُاَ

موږ د بیعدالتی، د قبیله پالنې او د بیگانه ستیزۍ په ضد

ډیر لږ درمل لرو.

-۴-

جاماناگناگامونا

اُبافِکانگنانجاماناگناگامونا

جاماناگناگامینالوهو

اُبافِکانگنانجاماناگناگامونا

ماگومیبافِکاگنانجاماناگناگامونا

اللهماهوکیلیچیلا

جاماناگناگامولالوهو

جاماناگناگامولا

جاماناگناگامولا*

--------

*په هیواد کې ګنګستیا واکمنه ده

هغوې غواړي زموږ هیواد په مخمصه کې ښکیل کړي

ټول هغه کسان چې غواړي زموږ هیواد له منځه ویسي

خدایه ته یې جزا ورکړی

په هیواد کې مو ګنګستیا واکمنه ده

او ټول په خپل فکر کې دي

## سیاسي جګړه

زما یادیږي کله چې ځوان وم

سیاستوال زموږ بانډې ته راغلل

او زما له مور او پلار یې وغوښتل چې ورته رایه ورکړي

پلار مې ورته وویل: نه، نه، زه تاسو ته رایه نه درکوم!

هیله، ژمنه، ښه ژوند او زده کړه

ښه واټونه او امنیت ما ته د راتللو لاره نه پیژني

او غبږ یې له ما ډیر لیری دی.

حکومتونه، وزیران او رییسان له ډیرو میرمنو سره

پوهنتونونه او  شخصیتونه

ما ته د راتللو لاره نه پیژني

او له موږ نه ډیری لیری دي.

زما یادیږي کله چې ځوان وم

پلار مې له خپلې کورنۍ او ملګرو تري تم شو

هغه یې بوتو چې په سیاسي جګړه کې وجنګیږي

او اوس د سیاسي جګړي لپاره قرباني کیږي.

## افريقايي انقلاب

موږ انقلاب غواړو

د ځوانانو انقلاب

د روڼ اندو انقلاب

دا انقلاب باید د افریقایانو لپاره تعلیمي انقلاب وي

موږ انقلاب غواړو

د ځوانانو انقلاب

د روڼ اندو انقلاب

دا انقلاب باید د تور پوټکو انقلاب وي.

*

ښوونځي ته لاړ شه، زما وروره

زده کړه چې دوې څه کوي

ښوونځی به ستا سترګې خلاصې کړي

د خلکو په وضعیت به پوه شی

ښوونځي ته لاړ شه، زما وروره

ته به ژر په ټولو هغو ستونزو پوه شې

چې ستا هیواد يې زغمي

زما وروره ستا په ذهن کې

هغه ځواک دي چې نړۍ بدلولی شي

پوهه به له تا سره مرسته وکړي

چې ښه  هیواد جوړ کړی

زما وروره ستا په لاسونو کې

د افريقا د خلاصون کلي ده

هغه کلي چې دې حکومت ورکه کړی

افريقايي انقلاب بايد د توروپوټکو د آزادئ انقلاب وي.

## تبعیض

په نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

خدای دا نړۍ د ټولو لپاره پیدا کړه چې په کې ژوند وکړي

او وی ویل: یوه نړۍ، یو شان خلک

هو، وې ویل: یوه نړۍ، یو شان خلک

په نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

خدای دا نړۍ د ټولو لپاره پیدا کړه چې په کې ژوند وکړي

او وی ویل: یوه نړۍ او یو خلک

هو، وې ویل: یوه نړۍ او یو خلک

خدای دا نړۍ د ټولو لپاره پیدا کړه چې په کې ژوند وکړي

نو په نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

*

تبعیض شرم دی

هو، تبعیض شرم دی

هو د انسانیت لپاره شرم دی

«جا»، هو «جا» وایي

زه نه پوهیږم ولې زما خلک په سویلي افریقا کې ژاړي

«جا»، هو «جا» وایي

زه نه پوهیږم ولې زما خلک په امریکا کې ژاړي

په نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

«جا»، هو «جا» وایي

زه نه پوهیږم ولې زما خلک په سویلي افریقا کې ژاړي

«جا»، هو «جا» وايي

زه نه پوهیږم ولې زما خلک په امریکا کې ژاړي

په نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

زه نه پوهیږم ولې، اوهو، زه نه پوهیږم ولې

زه نه پوهیږم ولې، اوهو زه نه پوهیږم ولې

زه نه پوهیږم ولې، اوهو زه نه پوهیږم ولې، ولې، ولې، ولې...

په نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

زه نه پوهیږم ولې، آه، نه پوهیږم ولې

زه نه پوهیږم ولې، ولې، ولې، ولې، ولې، ولې....

په دې نړۍ کې ولې باید تبعیض وي؟

## افریقا

افریقا

افریقا

افریقا غواړي چې آزاده وي

زموږ مور افریقا

غواړي چې آزاده وي.

زه د هغوې په سیستم پوهیږم

چې زما د خلکو په وړاندې یوه توطئه ده

که «جا» له موږ سره وي

هیڅوک هم زمونږ په ضد کیدای نشي

که «جا» زموږ د خلکو سره وي

زه نه پوهیږم چې څوک به کوښښ وکړي

څوک به کوښښ وکړي چې له موږ سره دښمني وکړي

زما افریقا غواړي چې آزاده ووسي

زه د هغوې په سیستم پوهیږم

چې د خلکو په وړاندې یوه توطئه ده

که «جا» له موږ سره وي

هیڅوک زموږ په ضد کیدای نشي

که جا زموږ د خلکو سره وي

زه نه پوهیږم چې څوک به کوښښ وکړي

څوک به کوښښ وکړي چې له موږ سره دښمني وکړي

زما افریقا غواړي چې آزاده ووسي.

*

افریقا غواړي چې آزاده ووسي

لکه زمری په ځنګل کې

افریقا غواړي چې آزاده ووسي

لکه مرغۍ په آسمان کې

که نه پوهیږی،

باید پوه شی

چې مور ـ افریقا ـ آزاده نه ده

اوهو، اوهو آزاده نه ده!

اوهو، اوهو آزاده نه ده!

مور ـ افریقاـ آزادي غواړي
کله چې د آزادۍ په اړه غږیږم

د اقتصادي آزادۍ په اړه خبرې کوم

کله چې د آزادۍ په اړه غږیږم

د سیاسي آزادۍ په اړه خبرې کوم

که تر اوسه نه پوهیدې

اوس باید پوه شی

مور ـ افریقاـ لا آزاده نه ده

اوهو، اوهو آزاده نه ده!

اوهو، اوهو آزاده نه ده!

زموږ مور ـ افریقاـ غواړي چې آزاده شي!

**باب مارلي، د نړۍ معترض فرياد**



بړده داره! – دری کوچنی مرغی – پاڅیږه، ودرېږه – ۱۴۰۰ کاله – خوشالي وکړئ –ای جنګیالیو، پاڅیږئ! – ما ولسوال ووژو – د شپې کمین – د بابلیون سیستم – سوځونه او لوټنه ـ یاغي موسيقي – انقلاب – شعارونه – لوړپوړی مقامات– ولې باید زه؟

رګه، د جامائیکا هغه انقلابي او ولسي موسیقي ده چې نه یوازې د لاتینې امریکا، بلکې د افریقا، اروپا، استرالیا او د شمالي امریکا په خلکو، ولسونو، هنرمندانو او دولتوالو باندې بیلابیلې اغیزې درلودلې دي. د دې موسیقی منځپانګی او ډکون، د نورو هیوادونو په موسیقي زیات اثرات پریښودي او د میلیونونو خلکو د احساساتو سره همغږي، په هر ټولنیز او سیاسي اعتراض کې د عدالت او برابری، د انسانیت او مقاومت او د انقلاب او پاڅون فریاد پورته کړی دی.

باب مارلي، د رګه موسیقی یو وتلی نوم دی چې رګه یې په بشپړه مانا نړیوالو ته وروپیژندله او داسې آهنګونه او نغمې یې پر شونډو زمزمه کړی چې د هیلي، مبارزې او د پرتمین ژوندانه پیغام په کې نغښتی دی. په رګه موسیقي کې د پیترتاش تر څنګ دا باب مارلي دی چې په ترانو کې یې د آزادۍ او مبارزې لمبې نڅاګرې دي او د اعتراض په قهر کې د جنایتکارانو کړیکې پورته کوي. د باب مارلي په ترانو کې همدا د مبارزې او آزادۍ شعار دی چې نوموړی په اوبایمې لسیزې کې د جامائیکا د معترضو ځوانانو په اتل بدلوي او تلپاتې کوي.

باب مارلي چې په یوې بیوزله کورنۍ کې زیږیدلی و، په دې پوهیده چې زیارکښه بیوزله انسانان له کومو کړاونو او ستونزو سره مخامخ دي؛ نو له همدې امله وتوانیده چې په خپلو ترانو کې د جامائیکا د بیوزله ولس ژوند، نړیوالو ته انځور کړي. د باب مارلي موسیقي یوازې د نڅا او ګډا موسیقي نه وه، بلکې د هغو خلکو آواز او غږ و چې په کلونو کلونو یې چا آواز اوریدلی نه و — ان دې خلکو باور درلود چې خدای هم د هغوې آواز نه اوري - خو دا باب مارلي و چې د هغو کنګل شوی آواز یې بی له ډاره په خپلو ترانو کې په هغو سپرغیو بدل کړ چې د مینې او غچ په لمبو کې یې د جامائیکا ولسونو ته د خلاصون لاره، روښانه کړه. له هغه ځایه چې باب مارلي د خپلو خلکو او پرګنو تر منځ اوسیده، نو ټولنیزو مسئلو د هغه د اکثرو ترانو ډکون جوړاوه. د دې لپاره چې وکړای شي له ولسونو سره نیغ په نیغه اړیکې ولري، د وړیا کنسرتونو نوښت یې تر لاس لاندې نیولی و، چې د ولسونو په پیوستون کې خورا اهمیت درلود.

په ۱۹۷۶ کال کې، مافیایي ډلو او جنایتکارانو د جامائیکا د ټاپو فقیر میشتو سیمو کې د جنایت او تاوتریخوالي کچه ورځ تر بلې زیاتوله؛ باب مارلي د دې لپاره چې د خلکو تر منځ مسکا وغوړوي، وړیا کنسرت په لاره اچوي، خو له کنسرت څخه څو ورځې دمخه یوه وسله واله ډله د هغه پر کور برید کوي، چې په کې یوازې باب مارلي یو څه ټپي کیږي. مګر هغه له خپل وړیا کنسرت (جامائیکا، مسکی شه!) نه تیریږي او د نندارچیانو په ښادۍ کې د وروږګلوي او انساني ارزښتونو پیغام ورکوي.

باب مارلي، د جامائیکا د ځایي خلکو سره د بهرنیانو د اوږدې جګړې شاهد و او کومه بیعدالتي چې د هغه په هیواد کې تیریده، نوموړي دې ته وهڅو چې په خپلو ترانو کې دا وضعیت انځور کړي. له هغه ځایه چې دولت د ولسونو لپاره هیڅ ګټور کار نشو تر سره کولای؛ باب مارلي اړ شو چې په یوې ترانې کې د اعتراض په ډول په سمبولیکه توګه د خپلې ولسوالي ولسوال ووژني. هغه همدا ډول د هغو سرتیرو انځور وړاندې کاوه چې د مرییانو او وحشي غواګانو په شان د دولتوالو په فرمان د هغه څه لپاره خلک وژني، چې په خپله ورباندې باور نلري.

باب مارلي د خلکو په اتحاد سخت باور درلود. هغه په دې اند و چې واکمنان نه غواړي چې ولسونه سره متحد شي، ځکه چې د ولسونو اتحاد، آزادي رامنځته کوي او آزادي د برده لرونکو د واکمنتیا میز ړنګوي، په اور کې یې سوځي او ایره کوي. «افریقا متحده شه!» ترانه دا باور داسې انځوروي:«افریقا، د ولسونو د ګټې لپاره متحده شه، موږ ټول یو شان انسانان یو.»

د میرمنو حقوق، پر میرمنو تیری، د میرمنو استثمار، د میرمنو له مینې سره بی وفایي، د میرمنو درد او رنځ، د باب مارلي د ترانو یوه برخه وه. هغه باور درلود چې میرمنې په ژړا نشي کولای ځانونه د دې بلاګانو څخه وژغوري. د همدې لپاره یې «نه، میرمنو، ژړا نه!» ترانه وویله چې وروسته د ډیرو نور ترانه ویونکو لخوا په کراتو وویل شوه. هغه له میرمنو غوښتل چې ښادي وکړي، متحد شي او

نور د خپل زوي پر جنازې ژړا ونکړي، بلکې د سيستم پر ضد دې راپاڅيږي او په پاڅيدلو سره به ټولې چارې سمې شي. هغه په يوه کنسرت کې ميرمنې مخاطب کړې:« نه، ميرمنو، ژړا نه!/ له ژړا سره ستونزه نه حل کيږي.»

د باب مارلي له اعتراضه ډکې ترانې همدا اوس هم هر چيرې چې د لوټ، تالان، زبيښاک، جګړې او رنځونو په ضد لاريونونه تر سره کيږي، د ګډونوالو لخوا زمزمه کيږي. د مارلي «افسانه» نومې البوم چې د نوموړي له مرګ څخه درې کاله وروسته نشر شو، د پلور کچه يې۱۲ ميليونه نسخوې وې، چې دا په خپله د باب مارلي د محبوبيت ښکارندوي کوي.

باب مارلي، د سرطان د ناروغۍ له امله د ۱۹۸۱ کال د مې په يولسمه ورځ په ميامي کې سترګې له نړۍ پټې کړې. «آزادي» د هغه وروستنۍ ترانه وه، او وروستې خبره يې دا وه چې «له پيسو سره ژوند نه پيريدل کيږي.» او دا يې خپل زوي زيګي ته وروستۍ خبره وه.

زړه مې غواړي کليسا بمبار کړم

پوهيږئ چې دا واعظ درواغ وايي

د خلاصون د لارې مبارزين په جګړه بوخت دي

څوک غواړي په کور کې پاتې شي؟

او:

د همدې سيستم له امله

هو، د همدې سيستم له امله

يوې ښځې سر په لاسونو کې نيولی او ژاړي

ځکه چې زوي يې ورته په کوڅه کې په ډزو وژلئ.

او په دې ډول باب مارلي د لوټمارو د سيستم په ضد راپاڅيږي، مبارزين هڅوي چې د انقلاب لاره ونيسي او ميرمنو ته پيغام ورکوي چې په ژړا، وير او خپګان هيڅ څه تر لاسه کولای نشي او ښايي په ميړانې او زړورتيا د هغه سيستم په ضد راپاڅيږي چې دوی په وير کښينوي، هغه د انقلاب هيله کوي او په جوته وايي چې انقلاب رارسيدونکی دی.

**برده داره!**

ای برده داره!  نور دې ميز ړنګ شوی

اور يې اخيستی او تا به وسوځوي

ای برده داره!  نور دې ميز ړنګ شوی

اور يې اخيستی او تا به وسوځوي

*

هر کله چې د قمچينې شړقارې اورم

وينه مې کنګل کيږي

په ياد لرم چې څنګه د مرييانو په بيړۍ کې

هغوې زموږ ارواوې ظالمانه وځورولې

او نن راته وايي چې موږ نور آزاد يو

خو يوازې د بيوزلۍ په ځنځيرونو کې بندي يو

*

ګرانه خدايه، زما په اند چې دا ناپوهي ده

چې يوازې ماشين پيسې جوړولی شي

ای برده داره! نور دې ميز ړنګ شوی!

ای برده داره!  نور دې ميز ړنګ شوی

اور يې اخيستی او تا به وسوځوي

ای برده داره!  نور دې ميز ړنګ شوی

اور يې اخيستی او تا به وسوځوي

*

هر کله چې د قمچينې شړقارې اورم

وینه مې کنګل کیږي

په یاد لرم چې څنګه د مرییانو په بیړۍ کې

هغوې زموږ ارواوې ظالمانه وځورولې

*

خدایه، زموږ پر ارواو ورحمیږه!

## درې کوچنۍ مرغۍ

د هیڅ شئي په اړه اندیښنه مه کوه

ځکه چې ټول شیان  سمیږي

د هیڅ شئي په اړه اندیښنه مه کوه

ځکه چې ان واړه شیان هم سمیږي

*

نن سهار درې کوچنۍ مرغۍ والوتی

او له ځلانده لمر سره وموسکیدی

او زما د کور د دروازې درشل کې راکوزې شوی

له خوږو ترانو سره

د سپېڅلو او حقیقي نغمو سره

ویلی چې تا ته یو پیغام لرو:

*

د هیڅ شئي په اړه اندیښنه مه کوه!....

ځکه چې ټول شیان سمیږي...

**پاڅیږه، ودرېږه**

پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودرېږه، مبارزه وکړه

*

ای مُلا، راته مه وایه چې جنت د ځمکې لاندې دی

زه پوهیږم چې ته د ژوند په واقعي ارزښت نه پوهیږئ

هر څه چې ځلیږي، طلا نه ده

نیمایي داستان لا ویل شوی نه دی

اوس نو ته کولای شی حقیقت ووینې

راشه، پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

*

پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودرېږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودرېږه، مبارزه وکړه

*

ډېری په دې فکر دي چې خدای  به یوه ورځ له آسمانه راشي

او ټولې بدۍ به له منځه ویسي او ښادي به راولي

که غواړو د ژوند په واقعي ارزښت پوه شوو

نو باید ځمکنی لاره چاره ولټوو

اوس نو ته باید حقیقت ووینې

پاڅیږه، ودریږه، د خپل حق لپاره

*

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودریږه، مبارزه وکړه

*

موږ نور ستاسو د ایزم او اسکیزم له لوبو ستړي ستومانه یو

نور د عیسی په نامه له مرګ او جنت  ستړي ستومانه یو

که په ځیرتیا وګورو، نو خدای زموږ په شان یو ژوندی انسان دی

*

شاید کم شمیر کسان د یوې مودې لپاره دوکه کړو

خو ټول د تل لپاره دوکه کولای نشو

اوس نو ته کولای شئ حقیقت ووینې

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

*

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودریږه د خپل حق لپاره

پاڅیږه، ودریږه، مبارزه وکړه

## ۴۰۰ کاله

۴۰۰ کاله، ۴۰۰ کاله، هو ـ ۴۰۰ کاله

یو شان

یو شان چلند

ما وویل، څلورسوه کاله

(۴۰۰ کاله، ۴۰۰ کاله، هو ـ ۴۰۰ کاله)

وګوره، څومره اوږده موده ده

خو ځينې لا تر  اوسه ليدلی نشي.

ولې هغوې له اوسني بيوزلو ځوانانو سره جنګيږي؟

بی له دې ځوانانو به ټول له منځه لاړ شي

او ټول به منحرف شي.

*

راشه، راشه چې حرکت وکړو

(حرکت وکړو، حرکت وکړو)

زه کولای شم وخت ووينم

وخت را روان دی

خو احمقان يې نه ويني

(احمقان يې نه ويني، احمقان يې نه ويني)

زه نور ځوانان ودرولی نشم

ځکه چې ځوانان پياوړي کيږي.

ته له ما سره راشه

زه به تا د آزادۍ ټاټوبي ته بوځم

چيرې چې موږ ژوند کولای شوو

هوسا ژوند، هوسا ژوند

هو، آزاده او هوسا ژوند.

*

وګوره ، څومره اوږده موده ده ـ ۴۰۰ کاله

څومره اوږد واټن دی ۴۰۰ کاله

همدا يې دليل دی چې زما خلك – زما خلك يې نشي ليدلی

وايي، څلور سوه ـ اوږده کاله

(۴۰۰ کاله، ۴۰۰ کاله)

آه، ما ته صبر راکړئ!

*

۴۰۰ کاله

(۴۰۰ کاله، ۴۰۰ کاله)

خو څومره صبر!

څومره؟

– ۴۰۰ کاله؟!

## خوشالي وکړئ

خوشالي وکړه، زما وروره،

خوشالي وکړه زما خورې

خوشالي وکړه، زما مورې

خوشالي وکړه، زما پلاره

پوهيږم چې دا خوشالي به ډير دوام و نه مومي

بدلون را روان دی

بدلون را روان دی

پوهيږم چې دا خوشالي به ډير دوام و نه مومي

ډيره موده ده، ډيره موده چې موږ په اسارت کې يو

که متحد شوو، نو آزادئ ته به ورسيږو

پياوړي به شوو

پياوړي به شو.

*

خوشالي وکړه، زما وروره،

خوشالي وکړه زما خورې

خوشالي وکړه، زما مورې

خوشالي وکړه، زما پلاره

*

پوهيږم چې دا خوشالي به ډير دوام و نه مومي

ډيره موده ده، ډيره موده چې موږ په اسارت کې يو

که متحد شوو، نو آزادۍ ته به ورسیږو

پیاوړي به شوو

پیاوړي به شوو.

*

خوشالي وکړه، زما وروره،

خوشالي وکړه زما خورې

خوشالي وکړه، زما مورې

خوشالي وکړه، زما پلاره

*

پوهیږم چې دا خوشالي به ډیر دوام و نه مومي

ډیره موده ده، ډیره موده چې موږ په اسارت کې یو

که متحد شوو، نو آزادۍ ته به ورسیږو

پیاوړي به شوو

پیاوړي به شوو.

*

خوشالي وکړه، زما وروره،

خوشالي وکړه زما خورې

خوشالي وکړه، زما مورې

خوشالي وکړه، زما پلاره

## ای جنګیالیو، پاڅیږئ!

پاڅیږئ ای ولیدلو جنګیالیو

پاڅیږئ، بیا مورچلې ونیسئ

هغه جګړه ماران چې تښتیدلي

د بلې جګړې لپاره لا ژوندي دي.

*

هغه څه چې کري، هغه به ریبي

پوهیږم چې تشې خبرې مفته دي

هر څومره چې جګړه تیزیږي

د بریا خوند لا ډیریږي

*

پاڅیږئ ای ولیدلو جنګیالیو

پاڅیږئ، بیا مورچلې ونیسئ

هغه جګړه ماران چې تښتیدلي

د بلې جګړې لپاره لا ژوندي دي.

## ما ولسوال ووژو

ما ولسوال ووژو، خو د هغه مرستیال مې نه دی وژلی

اوهو، نه، اوهو، نه...

ما ولسوال ووژو، خو د هغه مرستیال مې نه دی وژلی

اوهو، نه، اوهو، نه...

*

دوې هڅه کوي چې ما

د خپل ښار په شاوخوا کې  وځاري

راته وايي چې ما به د مرستیال د وژنې په تور،

د مرستیال د مرګ په تور مجرم ثابت کړي

خو ما وویل، اوهو، نه، اوهو، نه...

*

ما ولسوال ووژو، خو قسم خورم چې د ځان د دفاع لپاره

خدایه، منم چې ما ولسوال ووژو

اوس راته وايي چې ته د اعدام مستوجب يې

ما ولسوال ووژو، خو قسم خورم چې د ځان د دفاع لپاره

*

ولسوال «جان برون» تل له ما کرکه درلوده

باور وکړئ چې نه پوهیږم ولې

هر کله چې ما یو زړې شیندلی

هغه ویلي:« مخکې له دې چې شین شي، وچې یې کړئ.»

« مخکې له دې چې لوی شي، وی وژنئ.»

ما ولسوال ووژو، خو قسم خورم چې د ځان د دفاع لپاره

ما وویل چې ما ولسوال ووژو، خو قسم خورم چې د ځان د دفاع لپاره .

*

یوه ورځ به بیرته آزاد شم

او له ښاره به بهر ووځم

او ناڅاپي به ولسوال «جان برون» ووینم

چې کوښښ کوي ما ووژني

ما هغه ووژو، ما هغه ووژو، ما هغه ووژو

که زه مجرم یم نو جزا به یې وګورم

*

ما ولسوال ووژو، خو مرستیال مې نه دی وژلی

اوهو، نه، اوهو، نه

ما ولسوال ووژو، خو مرستیال مې نه دی وژلی.

## د شپې کمين

دوې د قدرت لپاره جنګيږي

خو د پای په ګړۍ نه پوهيږي

په پيسو، په وسلو، په رشوت

هڅه کوي زموږ وقار مات کړي

څه چې وايي موږ ورباندې پوهيږو

خو دوې غواړي موږ په دې پوه کړي چې موږ جاهله يو.

هر کله چې دوې د سياسي ستراتيژی له لارې

موږ ته د رارسيدلو هڅه کوي

کوښښ کوي موږ وږي وساتي

او کله چې لږه ډوډۍ تر لاسه کوو

ورور راته په دښمن بدلوي!

*

ټولو وسلو زه په نښه کړی يم، پر ما ډزې کوي.

دا په شپې کې يو کمين دی

دا په شپې کې يو کمين دی.

*

په څه چې موږ پوهيږو

هغه څه نه دي چې دوې راته وايي

موږ جاهله نه يو

دوې نشي کولای موږ ته درس راکړي.

د ټولو قدرت په نامه

زموږ نوم کارول کیږي

د ټولو قدرت په نامه

موږ یوازې ژوندي ساتي

هو، دا په شپې کې یو کمین دی

یو پلان شوی کمین

هغوی هڅه کوي پر موږ بریالي شي

څکه باور لري چې پیسې هر څه راوړل شي

دا په شپې کې یو کمین دی.

## د بابلیون سیستم

هغسې چې تاسو یې غواړئ

موږ ووسو، موږ یې نه منو!

څه چې موږ غواړو

هماغسې غواړو ووسو!

تاسو موږ ته

د نامساویانه فرصتونو لپاره

زموږ د آزادئ لپاره

د خلکو د آزادئ او د خلاصون لپاره

درس نشی راکولائ.

د بابلیون سیستم هغه بلا ده

چې هره ورځ د ماشومان وینه څښي

د بابلیون سیستم هغه بلا ده، هغه ناکامه امپراتوري ده چې د بیوزلو وینه څښي

او د کلیساګانو او پوهنتونونو په جوړونې

خلک په دوامداره توګه دوکه کوي!

د همدې لپاره زه دوې ته فارغ التحصیله غله او ترهګر وایم

ځکه همدا اوس هم د بیوزلو وینه څښي.

*

ماشومانو ته ربښتیا ووایه

ماشومانو ته ربښتیا ووایه

راشه او همدا اوس ماشومانو ته ربښتیا ووایه

ماشومانو ته ریښتیا ووایه!

چې د بابلیون سیستم هغه بلا ده چې د بیوزلو وینه څښي.

## سوځونه او لوټنه

نن سهار، په بندیز کې له خوبه راپاڅیدم

ای خدایه زه هم بندي وم!

هغه ځیرې مې چې مخې ته ودریدلی وی، یوه مې هم نه پیژندله

ټولو د وحشت یونیفورم اغوستی و.

*

له څومرو دروازو باید موږ تیر شو

څو د خپل آمر سره وغږیږو؟

هر څه چې مو لاس ته راوړلي وو، ښایي چې له لاسه یې ورکوو

باید یې بیه ورکړو

د همدې لپاره نن شپه باید سیزنه وکړو، لوټنه وکړو

هو نن شپه باید سیزنه وکړو، لوټنه وکړو

نن شپه باید سیزنه وکړو، لوټنه وکړو

نن شپه ټوله چټلي او ناپاکي سوځو

نن شپه ټول دروغ سوځو

*

ماته ډوډۍ راکړه او پرې مې ږده چې وده وکړم

اوهو، ته اوښکې نشې ودردولی!

موږ له ډیرې مودې راپدیخوا درد زغمو

ماته ډوډۍ راکړه او پرې مې ږده چې وده وکړم

موږ نن شپه باید سیزنه وکړو، لوټنه وکړو

د دې لپاره چې ژوندي پاتې شو

موږ نن شپه باید سیزنه وکړو، لوټنه وکړو

څو ماشومان مو ژوندي پاتې شي

موږ نن شپه باید سیزنه وکړو، لوټنه وکړو

څو ژوندي پاتې شو

څو ماشومان مو ژوندي پاتې شي.

## **ياغي موسيقي**

**(د دری بجو بندیز)**

زه ياغي موسيقي غږوم

زه ياغي موسيقي غږوم

موږ په خپل هيواد کې ولې په آزاده ګرځيدلی نشو

ولې موږ هغه څه چې غواړو ووسو، وسيدلی نشو

موږ آزادي غواړو

زه بهر ته راوځم

هو زه بهر ته راوځم

هو زه بهر ته راوځم

د يلنې د غندلو له يو کوچنې دستې سره

زه ياغی موسيقي غږوم

زه ياغي موسيقي غږوم.

## انقلاب

انقلاب په رښتيا هم راځرګنديږي

انقلاب، انقلاب، انقلاب

انقلاب را رسيږي

او هر څه حليږي.

دمګړۍ ډيره ګډوډي روانه ده

ډيره نهيلي روانه ده

زه نه غواړم چې په پارک کې ژوند وکړم

په پارک کې ژوند وکړم

په تروږمه پسې پر سيورې باور نلرم

هو، په تروږمه پسې پر سيوري باور نلرم

هيله من يم چې ملګري به مې ووينې

چې څنګه اسيران آزاد شوي

ان په ونو کې له مرغيو آزاد.

*

سياستوال هيڅکله له تا سره خواخوږي نلري

غواړي تر ابده تا کنترول کړي

تر ابده

تر ابده

که اور دا کنترول سيزلی شي

نو اور شه او وی سيزه، وی سيزه

او که وینه تا په منډه کوي، منډه کړه، منډه کړه، منډه

موږ تندر جوړو، تندر

اور بلوو، اور، اور، اور

موږ تندر جوړو، تندر

اور بلوو،

اور،

اور،

اور.

**شعارونه**

نور نو ستاسو شعارونه پورته کولی نشو

نور نو ستاسو شعارونه پورته کولی نشو

ستاسو د شعارونو رنګ به له ټولو کوڅو پاک کړو

ځکه کله چې ستاسو سیځونکی قیر ستومانه پښې سوځوي

دا شعارونه خلک مغشوشوي.

ما پولې او بریدونه لیدلي

ما جدایی او لاریونونه لیدلي

ما بلوایی لیدلي

ما د کډوالو رنځونه لیدلي

مور به کله آزادۍ ته ورسیږو؟

*

نور نو ستاسو شعارونه پورته کولی نشو

نور نو ستاسو شعارونه پورته کولی نشو

نور د ملایانو خوږې خبرې اوریدلی نشو

نور د منافقینو خوږې خبرې اوریدلی نشو

نور نو ستاسو شعارونه پورته کولی نشو

نور نو ستاسو شعارونه پورته کولی نشو

نور د ملایانو خوږې خبرې اوریدلی نشو

نور د منافقینو خوږې خبرې اوریدلی نشو

## لوړپوړي مقامات

هغوې نه غواړي چې موږ متحد شوو

هغوې غواړي چې موږ په شخړو او جګړو کې بوخت ووسو

هغوې نه غواړي چې موږ له يوبل سره ژوند وکړو

هغوې غواړي چې موږ د يو بل په وژلو بوخت ووسو.

هغوې غواړي چې زموږ وينه د دوې لپاره تويه شي

هو، زموږ وينه دې تويه شي

خو، ما نن سهار

د ورولی مينه

د خورولی مينه

احساس کړه

احساس کړه

ما نن سهار

دورولی مينه

د خورولی مينه

احساس کړه

احساس.

*

هغوې نه غواړي چې موږ متحد شوو

هغوې غواړي چې موږ په شخړو او جګړو کې بوخت ووسو

هغوې نه غواړي چې موږ له يوبل سره ژوند وکړو

هغوې غواړي چې موږ د يو بل په وژلو بوخت ووسو.

## ولې باید زه ؟

ولې باید سر مې ټیټ کړم او وژاړم؟

ولې باید سر مې ټیټ کړم او واژړم؟

زړه نړۍ پای ته رسیدلی

نوې نړۍ همدا اوس پیل شوی

او ټول خلک چې په کې ژوند کوي

باید په کې د ژوندانه حق ولري، باید....

*

یو څه نور هم د ویلو لپاره لرم:

هغه څه ته چې اړتیا لرم، باید تر لاسه یې کړم

هغه څه چې غواړم، باید تر لاسه یې کړم

هغه څه ته چې اړتیا لرم، باید تر لاسه یې کړم

هغه څه چې غواړم، باید تر لاسه یې کړم

هغه خوښي چې غواړم، باید تر لاسه یې کړم

هغه عمل چې غواړم، باید تر لاسه یې کړم

*

که چیرې مخې ته مو د انتخاب لپاره دوه لارې وي

که نیکي وکړای شي پر بدي غالبه شي

نو ولې باید پسه د خپل ارباب آواز ته غوږ شي

راته ووایه، ولې؟

ولې باید سر مې ټیټ کړم او وژاړم؟

ولې؟ ـ فکر کوم چې کوم دلیل نلري.

ولې باید سر می ټیټ کړم او وژاړم؟

باید حرکت وکړم، باید عمل وکړم

هغه څه چې غواړم، باید تر لاسه یې کړم

ومې ویل باید تر لاسه یې کړم

هغه څه چې ورته اړتیا لرم، باید تر لاسه یې کړم

باید تر لاسه یې کړم، همدا نن، همدا اوس

هغه څه چې غواړم، باید تر لاسه یې کړم

څنګه چې مې وویل، باید تر لاسه یې کړم

هغه څه ته چې اړتیا لرم، باید تر لاسه یې کړم،

باید خوښۍ تر لاسه کړم.

زړه نړۍ پای ته رسیدلې

نوی نړۍ همدا اوس پیل شوی

او ټول خلک چې په کې ژوند کوي

باید په کې د ژوندانه حق ولري، باید....

*

یو څه نور هم د ویلو لپاره لرم:

ولې باید سر می ټیټ کړم او وژاړم؟

پلار مې پاچا دی

ولې باید سر مې ټیټ کړم او وژاړم؟

کله چې ټول په نړۍ کې شتمن وي

راته ووایه، ولې؟

ولې باید سر مې ټیټ کړم او وژاړم؟

ولې؟ ـ فکر کوم چې کوم دلیل نلري.

## "سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاځون دی او انتقام ـ سپیځلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳- زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵- ډیر ترویج، ډیر تبلیغ. ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ – د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

۱۷- ولادیمیر ایلیچ لنین، نادژدا کروپسکایا، ژباړه: ولي

## خپریږي:

## د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي

ډېره موده ده، ډېره موده چې مونږ په اسارت کې یو
که متحد شوو، آزادۍ ته به ورسېږو

ميند
خپرندويه
١٣٩١